خـــــــــورشید عطائی
تورونتو ـ ۱۴ اپریل ۲۰۱۵

# نازک نازک خیالونه

د شپې زړه کې کراري وه او ډېوه مې څنګ ته بله
هم راغلی مې ؤ لاس ته يو کتاب ؤ د شعرونو
له عنوان څخه مې ښکل کړ چې شاعر راته اشنا ؤ
بيا مې کېښود پاس په سترګو
پوره شپه مې ولوستلو
مقدس شګوم په شانتې
چې په ناز به مې کړ بېرته
له دنيا څخه وتلم
په ګلزار کې د شعرونو
لور په لوري ګرځېدمه
او احساس مې انساني ؤ دوبېدمه
پاکه مينه وه، اخلاص ؤ
د شاعر د زړه ګداز ؤ
تمه نه وه، ريا نه وه
دغه بل شانتې دنيا وه
پر بستر د خوب ويده شوم
او کتاب مې پر سينه ؤ

له ښایسته ښکلو ګلانو
ترې عطرونه خورېدل
وو دلکشه یو تر بله
دا جادو ؤ، که بیده وم په نشه له ډک جامونو
سره ورغلل بانه مې
شاعر هم په خوب کې راغی
موږه دواړه په ګلشن کې ګرځېدلو
سره په ګډه
د شعرونو د غوټی په سپړیدو یې
تفصیلات وړاندې کاوونه
دا شاعر ؤ خوږکلامه
زړه ته مې را لنډیدلو
په الفاظو کې یې عشق ؤ
مینتوب ؤ، او نازک نازک خیالونه
او د شعر په هره ښانګه
لکه ستوري ځړېدل
ښه خوږه او په زړه پورې
د شاعر هره وینا وه
له پاک زړه نه راوتلې
په وتو له دې دنیا وه
ګام یې مخکې اېښودلو
په وښیدو مې ریږدیده
شاعر مې هم په حال د مینتوب ښه پوهیده.